**بسم الله الرحمن الرحيم**

## بنديان ازاد کړئ!

**(ژباړه)**

له ابو موسى رضى الله عنه څخه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم وفرمايل:

«**فُكُّوا الْعَانِيَ وَأَجِيبُوا الدَّاعِيَ وَعُودُوا الْمَرِيضَ**». (فتح الباري بشرح صحيح البخاري برقم 5174)

***ژباړه:*** *بنديان ازاد کړئ، د دعوت کوونکي بلنه ومنئ او د ناروغ پوښتنه وکړئ.*

ابن بطال ويلي چې د بندي ازادول کفايي واجب دي او د جمهورو علماوو نظر هم همدا دی. همدارنګه اسحاق او ابن راهويه ويلي چې د بندي د ازادۍ فديه له بيت المال څخه ورکول کېږي او له امام مالک رحمه الله څخه هم همداسې روايت شوی دی؛ خو امام احمد رحمه الله ويلي چې بندي د بل بندي په بدل کې ازادېږي، نه په مال سره. که په ورته وخت کې له مسلمانانو او کافرانو سره د يو او بل لوري بنديان وو او دواړو اړخونو د فديې په ورکولو هوکړه وکړه، ستونزه نه لري، خو د مال په بدل کې د مشرکينو د بنديانو ازادول جايز نه دي.

د دغه حديث په موخه ټول پوهېږو چې رسول الله صلى الله عليه وسلم موږ ته سپارښتنه کوي، چې بنديان ازاد کړو، وږو خلکو ته ډوډۍ ورکړو او د ناروغانو پوښتنه وکړو، خو په ذهن کې مې د اسلامي امت د اوسني واقعيت په اړه يو څه راوګرځېدل او هغه دا چې اسلامي امت هم نن ورځ بندي، وږی او ناروغ دی. امت بندي دی، ځکه چې له نظامي، سياسي، اقتصادي، فکري او رسنيز اړخه د کفري نظامونو تر واکمنۍ لاندې ژوند کوي؛ امت وږی دی، ځکه کوم غوره ځيزونه چې الله سبحانه وتعالى ورکړي، هغه نن ترې اخيستل شوي او دغه توکي د کافرانو د لذت سبب شوي دي؛ امت ناروغ دی، ځکه چې د پانګوالۍ ناروغي يې په ټول بدن کې خوره شوې ده. خو ايا موږ دا هڅه کوو، چې اسلامي امت له لوږې، زندان او ناروغۍ څخه خلاص کړو؟! نه يوازې دا، بلکې د ځان تر خلاصون وروسته ايا د نړۍ د ژغورنې لپاره هڅه کوو؟!

اې ربه! موږ ته د نبوت پر منهج دويم راشده خلافت دولت را په برخه کړه، چې د هغه په وسيله د کفري نظامونو له زندان، کفارو ته له لاس اوږدولو او د پانګوالۍ له خطرناکې ناروغۍ څخه وژغورل شو.

اللهم آمين.